# د افغـــــانستان اســــلامي امــــارت

## د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

## د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۱۷/ ربیع الثاني/۱۴۴۷هـ، ق موافق ۱۸ / میزان /۱۴۰۴ هـ، ش**

# د هجرت له ځایونو څخه د راستانه شوو هیوادوالو په وجه ، د کورونو د کرایو لوړول یو ناسم عمل دی.

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، ولا عدوان إلا على الظالمين، وأشـــهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، إله الأولين والآخرين، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، خاتم النبيين والمرسلين، صلى الله وسلم وبارك عليه، وعلى آله وصحبه أجمعين.

أما بعد: قال الله سبحانه وتعالى: (مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِنَ اللَّهِ وَرِضْــوَاناً سِــيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّــجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْأَنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَــطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً). الفتح: (۲۹)

**درنو حاضرینو او محترمو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

د کوم وخت څخه چې د هجرت له ځایونو څخه د هیوادوالو را ستنېدل پیل شـوي دي ، دنیا پرســته او حریصـو خلکو د کورونو کرایې لوړې کړې دي، چې دا یو ناسم عمل دی او د اسلامي اخلاقو مخالف عمل دی.
الله جل جلاله فرمایلي دي چې مسلمانان باید یو پر بل مهربانه او ترحم والا وي او فرمایي:(مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ)الفتح:(۲۹)
ترجمه:- محمد رسول او رالېږل شوی د الله دی (په حقه سره) او هغه کسان چې له ده سره دي سختي کوونکي دي په کافرانو باندې مهربانان او زړه سواندي دي پخپلو منځونو کې.
چې د کورونو کرایې لوړول د مهربانۍ او ترحُم خلاف او ناسم عمل دی، ځکه چې د هجرت له ځایونو څخه راستانه شوي هیوادوال د ترحُم او مهربانۍ مستحق دي، هغوی د بیا راستنیدو پر مهال ډېری زیاتې ستونزې ګاللي دي او زیات مالي او مادي امکانات یې له لاســه ورکړي دي ، هغوی مســتحق ددې دي چې ورسره مرســته وشي او د بیا ژوند د عیارولو په برخه کې ورته لاس ورکړل شي. متأسفانه مونږ د هغوی په حق کې بې انصافي کوو او د کورونو کرایي ورته لوړوو، چې دا سراسر ظلم دی او داسلامي ورور ګلوۍ او

افغاني کلتور مخالف عمل دی. زمونږ د نیکونو کلتور میلمه پالنه وه ، د میلمه او محتاج سره مرسته کول ؤ ،چې مونږ د هغوی لاره پرېښې ده او د کورونو د کرايې لوړول د اسلامي وروړګلوۍ مخالف عمل دی.

د مسلمانانو څخه ملاتړ او د هغوی سره خواخوږي یو اسلامي اصل دی او دا ایجابوي چې مونږ د مسلمان ورورسره مرسته وکړو او د هغه د مشکلاتو په رفع کولو کې هلې ځلې وکړو. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا ». صحیح مسلم (٨/ ٢٠)

ژباړه:- د ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وايې چې رسول الله ــصلى الله عليه وسلم- وفرمایل: یو مؤمن د بل مؤمن لپاره لکه د آبادۍ په څېر دی، چې ځینې آبادي ځینې نور لره مضبوطوي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (عن النعمان بن بشير رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِم وَتَرَاحُمِهِم وَتَعَاطُفِهِم مَثَلُ الجَسَدِ، إذَا اشتَكَي مِنهُ عُضوٌ تَدَاعَي لَهُ سَائِرُ الجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالحُمَّي). مسلم (٩/ ٢٠)

ژباړه:- له نعمان بن بشـیر رضي الله عنه څخه روایت دی وايي: رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم وفرمایل : د مؤمنانو مثال یو د بل سره په محبت او مهربانۍ او شـفقت کې د یوه بدن په څېر دی چې کله یو غړی له بدن څخه په درد راشي د بدن نور غړي هم د ده سره د هم غږۍ لپاره بې خوابۍ او تبې ته رابولي

په یو بل حدیث شریف کې راځي:(الْمُسْـلِمُ أَخُو الْمُسْـلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْـلِمُهُ وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ). صحيح البخاري (٦/ ٢٢٧)

ژباړه:- مسـلمان د مسـلمان ورور دی ، نه به وربانديې ظلم کوئ، او نه به يې سـپاري دښـمن یا ځانته به یې نه پرېږدي او څوک چې د خپل ورور په حاجت کې ؤ ، الله تعالی به دده په حاجت کې وي.

امام نووي رحمه الله ددې حدیثونو په شرح کې وايي:(هذه الاحاديث صريحة في تعظيم حقوق المسـلمين بعضـهم على بعض وحثهم على التراحم والملاطفة والتعاضد في غير إثم ولا مكروه). شرح النووي على مسلم (١٦/ ١٣٩)

ژباړه:- دا احادیث صریح دي په عظمت د مسـلمانانو په یو بل باندې د حقوقو په باره کې او ترغیبول د مسـلمانانو دي په خپلو منځو کې په ترُحم کولو او مهربانۍ باندې او د یو بل په ملاتړ باندې ، خو چې د ګناه کار نه وي او مکروه عمل نه وي.

حال داچې مونږ د هجرت له ځای راسـتنیدونکو هیوادوالو سره هیڅ ترحم نه دی کړی ، نه مو ورسره مهربانی کړی ده او نه د هغوی په حال فکرمند شـوي یو ،نبي عليه السـلام فرمایلي دي چې څوک د مسـلمانانو د حالت په اړه فکرمندي ونه لري ، نو د مسلمانانو له جملې څخه نه دی. په حدیث شریف کې راځي:(مَنْ لا يَهْتَمُّ بِأَمْرِ الْمُسْلِمِينَ فَلَيْسَ مِنْهُمْ) المعجم الصغير للطبراني (٢/ ١٣١)، الترغيب والترهيب (٢/ ٣٦٢)

ژباړه:- څوک چې اهتمام نه کوي د مسلمانانو د کارونو ، پس هغه ددوی څخه نه دی.

کامل مسلمان هغه دی چې څه د ځان لپاره خوښوي ، هغه د نورو مسلمانانو لپاره هم خوښ کړي ، نو ښکاره خبره ده چې مونږ هر یو دځان لپاره دا خوښـه ګڼو چې زه باید داسـې کور راونیسـم چې د هغې کرایه کمه او مناسـبه وي. په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَنَسٍ عَنْ النَّبِيِّ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ قَالَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِـهِ). متفق عليه واللفظ للبخاري ت (١/ ١٧)

ژباړه:- د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه د نبي عليه السلام څخه نقلوي چې نبي عليه السلام وفرمایل: کامل مؤمن کیدای نشيـ یو له سـتاسـې څخه ترهغې پورې چې خوښ وګڼي خپل مسـلمان ورور لپاره هغه څه چې د ځان لپاره يې خوښ ګڼي.

الله جل جلاله د هغه چا صفت کړی دی او فرمایي چې د کامل مسلمان شان دادی چې هغه به د خپلو خواهشاتو په مقابل کې د نورو مسلمانانو مشکلاتو ته ترجیح ورکوي.الله تعالی فرمایلي دي:( وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)الحشر: (٩)

ترجمه:- او غوره کوي (مهاجران) مقدموي يې پر خپلو ځانونو او اګر که وي پر دوی باندې تنګي او هر هغه څوک چې وساتلی شي له بخل د نفس د ده نه نو همدغه کسان دي همدوی مراد موندونکي په مراد رسیدلي.

په غزوه یرموک کې حضرت عکرمه رضي الله زخمي شوی ؤ او د اوبو څښلو ته يې زيات ضرورت درلود ، کله چې يې ده ته اوبه راوړلې ، نو ده وکتل چې د هغه بل ملګری هم زخمي شـوی دی او تږی دی ، حضرت عکرمه رضي الله عنه وويل چې اوبه زما هغه بل ملګري ته ورکړئ، کله چې د هغه ملګري ته يې اوبه ور وړې ، نو هغه ولیدل چې يو بل کس زخمي دی او تندې رااخیستی دی ،نو هغه صحابي وويل چې اوبه هغه درېیم کس ته ورکړئ کله چې يې اوبه هغه ته وروړلې هغه په شهادت ورسید او چې اوبه يې بیا راوګرځولی ، نو هغه ټول شهیدان شوي ؤ او اوبه هیچا ونه څښلې. تفسير ابن كثير / دار الفكر (٤/ ٤٠٦)

په دې واقعه کې د محتاج ورور لپاره دا ایثار او قرباني ورکولو عظیم درس پروت دی، نو مونږ د راستنیدونکو په حق کې له ایثار او قرباني څخه کار واخلو او د تجارت اوپیسو ګټلو په غم کې نشو.

همدا راز زمونږ د ټولو ایماني وظیفه ده چې د هجرت له ځای راستانه شـوو هیوادوالو سره مرسته وکړو، ځکه چې الله تعالی فرمایلي دي چې تاسې یو د بل سره تعاون او مرسته وکړئ او د هجرت له ځای څخه راستانه شـوي هیوادوال د تعاون زيات مستحق دي. الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ). المائدة: (٢)

ترجمه:- او مرسته کوئ تاسې یو تر بله په نېک کار او تقوی (پرهیز ګاری) کې او مه کوئ تاسې مرستې یو تر بله پر ګناه او پر عدوان (ظلم تجاوز) او وويرېږئ تاسې له الله څخه بېشکه چې الله ډېر سخت دی عذاب (د ده متخلفینو لره).

د هجرت له ځایونو د راستنیدونکو هیوادوالو سره تعاون او مرسته کول د کورونو دکرایو کمول دي او دکورونو دکرایو لوړول د هجرت څخه د را ستنیدونکو هیوادوالو په حق کې په ظلم کې تعاون کول دي ، ځکه چې کله یو کس د خپل کور کرایه لوړه کړه هغه بل کس يې هم لوړوي، چې په حقیقت کې دوی دواړو د یو بل سره په ظلم کې تعاون کوونکي واقع شـول. او ددې مثال داسې شو لکه چې ویل کیږي:( الدال على الشر كصانعه) تفسير بحر العلوم (١/ ٣٩١)

ژباړه:- دلالت کوونکی په شر داسې دی لکه فاعل د شر چې وي.

په حدیث شریف کې په خواخوږۍ او مر ستې زيات فضیلت بیان شوی دی، بالخصوص د هغه چا مر سته کول ډېر مهم دي ، چې مر ستې او کومک ته اړتیا لري چې د نورو ځایونو څخه را ستنیدونکي هیوادوال د بل هرچا څخه زیات مر ستې او لا سنیوي ته اړتیا لري او د مرستې او خواخوږۍ مستحق دي او د کورونو د کرایې ټیټوالی د هغوی سره لویه مرسته او خواخوږي ده.

همدا راز د کورونو د کرایې په لوړوالي کې د نورو ځایونو څخه په راستنیدونکو باندې سختي راوستل دي او د کورونو د کرایې په ټیټوالي کې پر هغوی اساني راوستل دي چې دا هم د مرستې او خواخوږۍ بهترينه نمونه ده. نبي عليه السلام فرمايلي دي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ - وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِى الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ عَلَى مُسْلِمٍ سَتَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِى الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَاللَّهُ فِى عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِى عَوْنِ أَخِيهِ ». سنن أبى داود-ن (٤/ ٤٤٢)

ژباړه:- د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه دنبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: چاچې لرې کړه د یو مسلمان څخه سختي ددنیا ، لرې به کړي الله جل جلاله دده څخه سختي د قیامت د ورځې او چاچې آ ساني راو ستله په هغه کس باندې چې په سختی کې ؤ، ا ساني به راولي الله تعالی په ده باندې په دنیا او آخرت کې او چاچې پرده واچوله په یو مسلمان باندې پرده به واچوي په ده باندې الله تعالی په دنیا او آخرت کې او الله تعالی د بنده په کومک کې دی ترڅو چې بنده د خپل ورور په مرسته او کومک کې وي.

بله داچې هغه چاچې د نورو ځایونو څخه راستنیدونکو هیوادوالو ته د خپل کور کرایه لوړه کړه او بیا نورو خلکو دده ددغه کار په وجه د خپلو کورونو کرایې لوړې کړې، نو دا سې شخص تر ټولو شریر انسان دی او په ناوړو کړنو کې د مقتدی او رهبر حیثیت لري . په یو حدیث شریف کې راځي: عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ النَّاسِ مَفَاتِيحَ لِلْخَيْرِ مَغَالِيقَ لِلشَّرِّ وَإِنَّ مِنْ النَّاسِ مَفَاتِيحَ لِلشَّرِّ مَغَالِيقَ لِلْخَيْرِ). مسند الطيالسي (٣/ ٥٥٦)، سنن ابن ماجه (١/ ٨٦)

ژباړه:- دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه ځینې د خلکو څخه برسیره کوونکي د خیر دي او بندوونکي دي د شر او بیشکه ځینې دخلکو څخه برسیره کوونکي د شر دي او بندوونکي دي د خیر.

په یو بل روایت کې راځي: عَن أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ عَلَى أُنَاسٍ جُلُوسٍ فَقَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِكُمْ مِنْ شَرِّكُمْ قَالَ فَسَكَتُوا فَقَالَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَالَ رَجُلٌ بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ بِخَيْرِنَا مِنْ شَرِّنَا قَالَ خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ وَشَرُّكُمْ مَنْ لَا يُرْجَى خَيْرُهُ وَلَا يُؤْمَنُ شَرُّهُ). سنن الترمذي (٤/ ٥٢٨)

ژباړه:- د حضرت ابو هریره رضي الله څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه ر سول الله صلی الله علیه و سلم د ددا سې کسانو په خوا کې ودریده چې هغوی ناست ؤ او ورته یې وفرمایل: آیا تاسو ته غوره خلک دروښایم چې هغوی شریر نه وي ؟ ابوهریره رضي الله عنه وفرمایل: هغه صحابه کرام چوپ شول. نبي علیه السلام داخبره درې ځله تکرار کړه. یو کس وویل: هو! یارسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته غوره شخص د شریر څخه وښایه.

نبي علیه السلام وفرمایل: غوره سړی په تاسو کې هغه دی چې د هغه څخه د خیر توقع کیږي او د شر څخه یې (خلک ) په امان کې وي او شریر ستاسو څخه هغه کس دی چې د هغه څخه د خیر توقع نه کیږي او د هغه څخه د شر توقع کیږي.

نو څوک چې د کور کرایه لوړوي، دا حدیث ددغسې کسان په حق کې صِدق کوي.

حقیقي مسلمان هغه دی چې د هغه د ضرر څخه نور مخلوق په امن کې وي. په حدیث شریف کې راځي:(المسلم مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ، وَيَدِهِ». متفق علیه

ژباړه:- کامل مسلمان هغه څوک دی چې په امن کې وي نور مسلمانان دده د ژبې (ضرر) څخه او د لاس د(ضرر) څخه.

نو څوک چې د خپلو کورونو کرایې لوړوي ، نو دا مسلمانانو ته ضرر رسول دي او مسلمان ته ضرر رسول حرام دي.

د هجرت له ځای را ستانه شوو هیوادوالو باندې د کورونو کرایې لوړول ظلم دی.

عام تصور د ظلم څخه دادی چې د چا وهل، ټکول، د هغه پیسې یا جایداد غصب کول او داسې نور

خو د ظلم حقیقت ډیر پراخه مصداقونه لري . دا هم ظلم دی چې د چا د مجبورۍاو احتیاج څخه ناوړه استفاده کول او پر هغه د ثابت نرخ څخه زیات د لسو افغانیو جنس په شل او دیرش خرڅول یا هغه ته په دوکه او فریب ورکول یا دخوارکي توکو احتکار هم د ظلم مصداقونه دي. بناءً دا هم ظلم دی چې دهجرت ځای څخه په راستانه شوو هیوادوالو باوجود ددولت او نظام د فیصلې څخه سرغړونه کول او هغوی ته د کورونو کرایې لوړول

په اجرت او کرايې کې ظلم کول هم خورا ناوړه او بد عمل دی او په قرآن کريم کې دغه موضوع ذکر په داسې ډول ذکر شوی ده.
حضرت شعيب عليه السلام حضرت موسى عليه السلام ته وفرمايل:(قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنْكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَنْ تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّالِحِينَ).القصص:(٢٧)
ترجمه:- وويل (پلار د جينکو مو سی ته )بېشکه زه اراده لرم د دې چې په نکاح در کړم تا ته يوه له دغو لوڼو خپلو چې دا دي په دې چې مزدوري وکړې ته زما لپاره اته کاله پس که پوره کړه تا لس کاله نو هغه به ستا له طرفه (له ما سره احسان) وي او نه لرم زه اراده د دې چې مشقت واچوم پر تا په اشتراط د لسو کلونو ژر به ومومې ته ما که اراده وفرمايي الله له صالحانو نېکانو (وفا کوونکيو په وعده).
عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايلي دي: کله چې لري کړلو الله تعالى عذاب د يونس عليه السلام له قوم څخه ، هغوی هغه مالونه واپس خپلو مالکانو ته ورکړل چې په ظلم يې ورڅخه اخيستي ؤ، آن تر دې پورې چې سړي به تيږه له بيخه راوويستله او خپل مالک ته به واپس کړه. الکشف والبيان للثعلبي (٥ /١٥٢)
يوه ورځ فُضيل بن عياض رحمه الله وژړل. چا ورته وويل: څه دې ژړوي؟ هغه ورته وويل: زه د هغه چا په حال ژاړم چې پر باندې يې ظلم کړی وي او سبا ورځ د الله تعالى په حضور کې ودريږي او هيڅ دليل ورسره نه وي.
يو سړي په سليمان بن عبدالملک باندې آواز وکړ په داسې حال کې چې هغه په ممبر ناست ؤ، ياد کړه ورځ د اذان. ، نو سليمان بن عبدالملک له ممبر څخه را ښکته شو او هغه سړي ته وويل : ورځ د اذان کومه يوه ده؟ هغه سړي ورته وويل: الله تعالى چې فرمايلي دي: {فأذن مؤذن بينهم أن لعنة الله على الظالمين} (سورة الأعراف:٤٤).اذان به وکړي يو اذان کوونکی او وبه وايې چې لعنت د الله تعالى دې وي په ظالمانو باندې. إحياء علوم الدين(٢ /٢٠٩)
د کورونو دکرايې په لوړولو کې مسلمانانو ته اذيت او ازار ر سيږي. فُضيل بن عياض رحمه الله فرمايي: جائز نه دي تاته چې ته اذيت او آزار ورسوي سپي ته او يا خنزير ته په ناحقه سره. نو څه حال به وي د هغه چا چې اکرم الخلق ته اذيت او تکليف ورسوي. تفسير البحر المديد (٦ /٨٣)
حافظ ابن رجب حنبلي وايي: ټول نصوص په دې دي چې په هيڅ وجه د وجوهو مسلمان ته اذيت او تکليف رسول جواز نلري که هغه قولا وي او که فعلاً وي. جامع العلوم والحکم (ص: ٣٣٦)
د کورونو د کرايو لوړول عموما له درې لاملونو له وجې رامنځ ته کيږي: حاجت، د بل چا پيروي او تقليد او طمع يا د مال حرص.
د حاجت له وجې چې څوک د کور کرايه لوړوي داسې خلک ډېر کم وي او داسې ډېر کم پيښيږي .
د بل چا پيروي او تقليد په وجه د کور کرايې لوړول: په ځينو ځايونو کې د کورونو مالکان اوضاع ته ګوري او کله چې يو کس د کور کرايه لوړه کړي نو نور خلک هم دده پيروي او تقليد شروع کړي او د کور کرايې لوړې کړي.
خو دا کار هغه وخت ډېر بد وي چې عام مسلمانانو ته په کې تکليف، مشقت او حرج وي او د کرايانو په زياتولو کې دکرايې د ټاکلو موازين مختل شي او په ټولنه کې انسانان دکرايو د لوړو قيمتونو سره مخ شي ، نو بيا دولت هم کولای شي چې د کورونو او آپارتمانونو لپاره کرايې وټاکي، ترڅو عمومي حرج له منځه لاړ شي.
ددې نوع کرايو د زياتولو په اړه په حديث شريف کې راځي: عن مَعْقِلُ بْنُ يَسَارٍ قال سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ دَخَلَ فِي شَيْءٍ مِنْ أَسْعَارِ الْمُسْلِمِينَ لِيُغْلِيَهُ عَلَيْهِمْ فَإِنَّ حَقًّا عَلَى اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنْ يُقْعِدَهُ بِعُظْمٍ مِنْ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ). مسند أحمد (٣٣ /٤٢٥)

ژباړه:- د معقل بن یسار رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د ر سول الله صلی الله علیه و سلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: څوک چې د مسـلمانانو د نرخونو په څه شي کې داخل شي ، ددې لپاره چې نرخونه پر هغوی ورباندې لوړ کړي، بیشکه حق ده الله تعالی چې داسې شخص کینوي په ډیر لوی ځای (چې عذاب یې لوی وي) د اور باندې د قیامت په ورځ.

بل داچې داسې شخص چې په بدو کې د نورو خلکو تقلید او پیروي کوي ناوړه او ناکاره شخص دی.

نبي علیه السلام دداسې کار د قباحت په اړه فرمایلي دي:عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم : لاَ تَكُونُوا إِمَّعَةً ، تَقُولُونَ : إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَحْسَنَّا ، وَإِنْ أَسَاءُوا أَسَأْنَا ، وَلَكِنْ وَطِّنُوا أَنْفُسَكُمْ إِنْ أَحْسَنُوا أَنْ تُحْسِنُوا ، وَإِنْ أَسَاءُوا أَلا تَظْلِمُوا). سنن الترمذي (٤ /٣٦٤)، مسند البزار (١ /٤٢٩)

ژباړه:- د حضرت حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي : امعه مه جوړیږئ(پسې ځي) چې تاسو وایې: که چیرې نیکي کوله خلکو، نو مونږ به هم نیکي کوو او که چیرې بدي کوله خلکو، نو مونږ به هم بدي کوو، بلکې اموخته کړئ خپل نفسونه خپل په دې باندې که چیرې (خلکو )نیکي کوله داچې تاسو به هم نیکي کوئ او که چیرې (خلکو) بدي کوله (په دې نفسونه اموخته کړئ) چې تاسې به ظلم نه کوئ.

بله داچې په نیکیو کې یو دبل څخه مخکې کیدل په کار دي او مونږ باید ځانونه په نیکیو کې مسـابقه کول او یو د بل څخه په سـبقت باندې عادت کړو. الله تعالی فرمایلي دي:( سَابِقُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ)الحدید: (٢١)

ترجمه:- تلوار وکړئ و ځغلئ تاسې ای مؤمنانو! طرف د مغفرت او ښښنې ته چې له جانبه د رب ستاسې ده او تلوار وکړئ و ځغلئ تاسـې ای مؤمنانو هغه جنت ته چې پلنوالی یې داسـې دی لکه پلنوالی د اسـمان او د ځمکې تیار کړی شـوی دی لپاره د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی په الله او یمان یې راوړی دی په رسولانو د دغه الله دغه (موعود جنت مغفرت،رضا لقاء فضل د الله دی چې عطا کوي یې هغه چا ته چې اراده وفرمایي ( د عطا یې چې مؤمنان دي) او الله څښتن د فضل عظیم دی.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعاً إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ). البقرة:(١٤٨)

ترجمه:نو تاسې وړاندې شئ ! یو تر بله نیکیو ته هر چېرته چې یئ تاسې رابه ولي تاسې الله ټول په قیامت کې لپاره د جزاء د اعمالو بېشکه چې الله په هر شي باندې قادر دی.

په یوبل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:(وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ) المطففین: (٢٦)

ترجمه:او په دغه (شرابو او نورو جنتي نعماوو) باندې پس بایده دي چې رغبت وکړي رغبت کوونکي (په کولو د فضـائلو او پرېښودلو د رذائلو چې عجلت وکړي په حسناتو او ځآن وساتي له سیئاتو).

مسلمان لره په کار دي چې په نیکیو کې یو دبل څخه سبقت وکړي، که چیرې یو کس کوم د هجرت څخه را ستانه شوو ته کرایه کمه کړه، بل هم باید کوښـښ وکړي چې د ثواب د ګټلو لپاره د هغه څخه مخکې شي او د خپل کور کرایه له هغه بل کس څخه هم کمه کړي، او له منفي مسابقې څخه ځان وساتي.

**د مال د طَمعې او دُنیوي حرص لپاره د کورونو لوړول:**

ددنیا حرص او د مال طمع ډیر ناوړه او مذموم خوی دی او ددې مذموم خوی له امله زیات کورني او اجتماعي مشکلات رامنځ ته کیږي.

د طمعې لپاره کرایه لوړول هیڅکله څوک نه مړوي، بلکې ددنیا حریص انسان به تل ددنیا په لاس ته راوړلو پسې شپه او ورځ ناقراره وي او هیڅکله به دمه نشي. په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایي:(لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى ثَالِثًا وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ ).متفق علیه

ژباړه:- که چیرې د(حریص) بني آدم دوه خوړونه د مال وي ، نو دریم خوړ به لټوي او ډکه به نکړي خیټه دده مگر خاوره.
که څوک د الله تعالی د بندگانو په خاطر د کورنو کرایه ټیټه او کمه کړي ، الله تعالی به دغه نعمت تل دده په اختیار کي وساتي او که چیرې حرص یې وکړ او د الله تعالی په بندگانو یې خرچ کول بند کړل ، الله تعالی به ورڅخه دغه کورونه واخلي .
حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمایلي دي: «عَنِ ابْنِ عُمَرَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ لِلَّهِ عَبَّادًا اخْتَصَّهُمْ بِالنِّعَمِ لِمَنَافِعِ الْعِبَادِ ، يُقِرُّهُمْ فِيهَا مَا بَذَلُوهَا ، فَإِذَا مَنَعُوهَا نَزَعَهَا مِنْهُمْ ، فَحَوَّلَهَا إِلَى غَيْرِهِمْ» المعجم الکبیر للطبراني (۱۱/ ۳۴۹)
ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله څخه روایت دی ، هغه وایې چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: بیشکه د الله تعالی ځینې بندگان دي چې هغوی یې په نعمتونو خاص کړي وي، د نورو بندگانو د منافعو لپاره ، الله تعالی دا نعمتونه د دوی سره ساتي تر هغې پورې چې دوی یې د الله د بندگانو په منافعو کې خرچ کوي ، خو کله چې دوی دغه نعمتونه د بندگانو د منافعو څخه را بند کړي ، نو الله تعالی ورڅخه دغه نعمتونه واخلي او نورو خلکو ته محول کړي.

**ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم وتب علینا انک انت التواب الرحیم**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**